# د پطروس رسول لومړی لیک

## د کتاب پېژندنه

دا لیک د عیسی مسیح رسول، پطروس هغو خورو ورو ایماندارانو ته لیکلی دی چې د پردیو خلکو په شان په هغو سیمو کې اوسېدل چې اوس د ترکیې په نوم یادیږي. دغه لیک د شاوخوا ۶۴ تر ۶۶ میلادي کلونو په ترڅ کې لیکل شوی دی. د دې لیک اصلي مقصد د هغو لوستونکو تشویقول دي چې د خپل ایمان په خاطر د ځوروونې او ستونزو سره مخامخ وو. د عیسی مسیح پیروان به د خپل ایمان په خاطر د هماغو خلکو له خوا ځورېدل چې د هغوی په منځ کې یې ژوند کاوه. هغوی ته به د خپل ایمان په خاطر په سپکه سترګه کتل کېدل او د خپلو کورنیو او قوم څخه به شړل کېدل او خپل د کورنۍ او د خپل قوم هویت به یې له لاسه ورکاوه.

پطروس د دې لیک په وسیله هغوی هڅوي او خپلو لوستونکو ته د عیسی مسیح په هکله هغه زیری ور په یادوي چې د هغه مرګ، بیا راژوندي کېدل او د راتللو وعده هغوی ته امیدواري ورکوي. برسېره پردې پطروس رسول هغوی ته دا ورښایي چې په عیسی مسیح باندې په ایمان راوړلو سره د خدای د غوره شویو په توګه د نوي هویت خاوندان شول. هغه داسې لوړ هویت دی چې هېڅوک یې ترې اخیستلی نه شي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پطروس خپل لوستونکي د تکليفونو او ستونزو په وخت کې هڅوي
او د هغوی څخه په کلکه غوښتنه کوي چې د هغو خلکو په شان
خپل ژوند تېر کړي چې د مسيح سره تړاو لري. هغه هغوی ته
لارښوونه کوي چې خدای ته وفادار پاتې شي او په دې ډاډمن اوسي
چې عيسی مسيح به د بېرته راتللو په ورځ د هغو اجر ورته ورکړي.

## د موضوعګانو لست

سلامونه: ۱:۱–۲

ژوندۍ هيله: ۱:۳–۱۲

د پاک ژوندون دپاره بلنه: ۱:۱۲ – ۲:۱۰

د کړاوونو په وخت کې د ايماندارانو مسووليت: ۲:۱۳ – ۴:۱۹

د کليسا مشرانو ته مشوره: ۵:۱–۱۱

وروستني سلامونه: ۵:۱۲–۱۴

## سلامونه

۱ ۱ دا ليک د عيسی مسيح د رسول پطروس له خوا د خدای
هغو غوره شويو خلکو ته چې د پونټوس، غلاتيې، کپدوکيې، اسيا او
بتونيې ولايتونو ته مهاجر او خواره واره شوي دي. ۲ پلار خدای
تاسو د خپلې ارادې له مخې له ازله غوره کړي يئ او تاسو د روح
القدس په وسيله پاک او سپېڅلي شوي يئ، ترڅو د عيسی مسيح
اطاعت وکړئ. د هغه وينه ستاسو په خاطر توی شوه چې تاسو پاک
شئ. ډېر زيات فضل او سلامتي دې وي په تاسو باندې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳-۴ ثنا او صفت دې وي خدای ته، هغه خدای ته چې زمونږ
د عیسی مسیح پلار دی. هغه په خپل لوی رحم سره د مړو څخه د
عیسی مسیح د بېرته راژوندي کولو په وسیله مونږ ته نوی ژوند راکړ.
دا مونږ ته ژوندۍ هیله راکوي، ترڅو هغه نهفناکېدونکی،
نهخرابېدونکی او تلپاتې میراث ترلاسه کړو چې ستاسو دپاره په
اسمان کې ساتل شوی دی. ۵ خدای به تاسو په خپل قدرت سره
ستاسو د ایمان په وسیله د هغه خلاصون دپاره خوندي وساتي چې د
قیامت په ورځ به یې ټول خلک ووینې.

۶ د دې دپاره تاسو خوشحالي وکړئ، که څه هم تاسو باید د یو
څه وخت دپاره د هر ډول ازمېښتونو او سختیو سره مخ شئ. ۷ د
هغوی مقصد دا ؤ چې دا ثابته کړي چې ستاسو ایمان سوچه ایمان
دی. لکه څنګه چې فاني سره زر په اور باندې ازمایل کیږي، نو
همدارنګه ستاسو ایمان هم چې د سرو زرو څخه ډېر قیمتي دی،
ازمایل کیږي. بیا به په هغه ورځ چې عیسی مسیح خپل ځان ښکاره
کوي، ستاسو ایمان به ستاسو د ستاینې، لویۍ او عزت سبب وګرځي.
۸ سره له دې چې تاسو تراوسه عیسی مسیح نه دی لیدلی، خو
بیاهم درباندې ګران دی او سره له دې چې اوس هم هغه نه وینئ،
خو بیاهم ایمان ورباندې لرئ او داسې خوشحالي کوئ چې د جلال
څخه ډکه وي او په ژبه یې بیان نه شي کېدای، ۹ او ستاسو د
ایمان مقصد دا دی چې تاسو خلاصون ومومئ.

۱۰ د دې خلاصون په هکله پیغمبرانو په غور سره څېړنه کړې ده

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او همدارنګه د دې فضل په هکله يې چې خدای به يې په تاسو کوي،
پېشګويي کړې ده. ۱۱ د مسيح روح هغوی ته د مسيح د کړاوونو
او جلال موندلو په هکله خبرې کولې. پيغمبرانو چې د مسيح د روح
په وسيله چې په هغوی کې ؤ او پېشګويي يې کوله، هڅه کوله په دې
پوه شي چې مسيح څوک دی او کله به راځي. ۱۲ خدای دغو
پيغمبرانو ته دا څرګنده کړې وه چې د هغوی خدمت د خپل ځان
دپاره نه بلکې ستاسو دپاره ؤ. اوس دا زېری تاسو ته د هغو خلکو له
خوا اورول شوی چې د اسمان څخه د نازل شوي روح القدس په
قدرت يې وعظ وکړ. دا هغه شيان دي چې فرښتې هم په دې ارمان
دي چې ويېويني.

## د پاک ژوندون دپاره بلنه

۱۳ نو د خپل عقل څخه کار واخلئ او هوښيار شئ. هغه فضل ته
پوره هيله ولرئ چې د عيسی مسيح په راښکاره کېدلو سره به په
تاسو وشي. ۱۴ د تابعدارو اولادونو په شان اوسئ. نور مه پرېږدئ
چې ستاسو د هغه وخت نفساني غوښتنې چې خدای مو نه پېژانده، په
تاسو اغيزه وکړي. ۱۵ بلکې لکه څنګه چې خدای چې تاسو يې
رابللي يئ، سپېڅلی دی، نو تاسو هم په خپلو کړنو کې سپېڅلي
اوسئ. ۱۶ ځکه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي دي:
«سپېڅلي اوسئ، ځکه چې زه سپېڅلی يم.» ۱۷ کله چې تاسو
خدای ته دعا کوئ، نو هغه ته پلار ووايئ. خدای هغه ذات دی چې
بې له طرفدارۍ د هرچا د عملونو له مخې قضاوت کوي. نو خپل
دنياوي ژوند خدای ته په درناوي کولو او وېره کې تېر کړئ. ۱۸

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه تاسو پوهېږئ چې د ژوند د بېځايه دودونو څخه خلاصون چې
د خپلو نيکونو نه تاسو ته په ميراث پاتې شوي وو، د فاني شيانو لکه
سرو زرو او سپينو زرو په بيه نه دی ترلاسه شوی. ۱۹ بلکې تاسو
پوهېږئ چې د مسيح په قيمتي وينې چې د بې‌عيبه او بې‌نقصه وري
په شان ؤ، په بيه اخيستل شوي يئ او خلاصون مو موندلی دی. ۲۰
خدای هغه د نړۍ د پيدايښت څخه مخکې غوره کړی ؤ، خو هغه په
اخره زمانه کې ستاسو په خاطر ښکاره شو. ۲۱ تاسو د مسيح په
وسيله په خدای باندې ايمان راوړی دی، په هغه خدای چې مسيح
يې له مړو څخه راژوندی کړ او جلال يې ورته ورکړ، ترڅو په خدای
باندې ستاسو ايمان او هيله نوره هم قوي شي.

۲۲ اوس چې تاسو خپل ځانونه د حقيقت په منلو سره پاک کړي
دي، ترڅو د خپلو ورونو سره د اخلاص نه ډکه مينه ولرئ، نو يو د
بل سره د زړه له کومې مينه وکړئ. ۲۳ ځکه چې تاسو د
خرابېدونکي تخم څخه نه، بلکې د نه‌خرابېدونکي تخم يعنې د خدای
د ژوندي او تلپاتې کلام په وسيله نوي پيدا شوي يئ. ۲۴ ځکه
چې د خدای کلام وايي:

د واښو په شان دي ټول انسانان

او د هغوی ښکلا ده د ګلانو په شان

چې نه لري زيات دوام

واښه وچيږي او رژيږي ګلان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ خو تل ترتله پاتې کېږي د ښښتن کلام

او دا کلام هماغه زېرى دى چې تاسو ته اورول شوى دى.

## قيمتي تيږه او غوره شوى قوم

# ۲

۱ نو بيا د هر ډول بدۍ، غولونې، منافقت، بخيلتوب او بدو
خبرو نه لاس واخلئ. ۲ د نويو زېږېدلو ماشومانو په شان د
سوچه روحاني شيدو غوښتونکي اوسئ، ترڅو د هغو په ښښلو سره
په خلاصون کې لوى شئ. ۳ ځکه چې تاسو خپله د ښښتن د
مهربانۍ خوند څکلى دى.

۴ نو بيا د هغه خواته راشئ چې د ژوندۍ تيږې په شان دى چې
خلکو رد کړى دى، خو د خداى په نظر کې غوره او قيمتي دى. ۵
تاسو هم لکه د ژونديو تيږو په شان يئ چې خداى درڅخه د خپل
روحاني کور په جوړولو کې کار اخلي. هلته به تاسو د سپېڅلو
کاهنانو په توګه خدمت کوئ او د عيسى مسيح په وسيله به هغه
روحاني قربانۍ وړاندې کوئ چې خداى ته د منلو وړ وي. ۶
ځکه چې د خداى کلام وايي:

ګورئ، زه په صهيون کې د بنياد غوره شوې او قيمتي تيږه ږدم،

او هرڅوک چې په هغه ايمان راوړي، نو هېڅکله به ونه
شرمېږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ نو ستاسو دپاره چې ايمان لرئ، دا تيږه ډېره ارزښتناکه ده. خو
د بې‌ايمانانو په اړه د خدای کلام وايي:

کومه تيږه چې رد کړې ګلکارانو وه

هغه اوس شوه اصلي تيږه د تهداب

٨ او همدارنګه:

هغه داسې تيږه ده چې د خلکو د ښويېدلو سبب کيږي او يوه داسې
تيږه ده چې هغوی به ورباندې رالويږي.

هغوی به رالويږي، ځکه چې د هغوی په قسمت کې همداسې ؤ، په
دې خاطر هغوی د خدای کلام نه مني.

٩ خو تاسو د خدای غوره شوي خلک، شاهي کاهنان، سپېڅلی
ملت او د خدای قوم يئ، ترڅو د هغه لوړ صفتونه چې د تيارې څخه
يې خپلې حيرانوونکې او ځلېدونکې رڼا ته راوبللئ، بيان کړئ. ١٠
پخوا تاسو د خدای قوم نه وئ، خو اوس د خدای قوم يئ. يو وخت
په تاسو باندې رحمت نه کېده، خو اوس درباندې وشو.

١١ ګرانو دوستانو! زه تاسو ته چې په دې نړۍ کې پردي او مهاجر
يئ، زاري کوم چې د نفساني غوښتنو څخه چې تل ستاسو د روح
سره په جګړه کې دي، ځانونه وساتئ. ١٢ د بې‌ايمانه خلکو په منځ
کې خپل چلند نېک ساتئ. که څه هم هغوی په تاسو باندې تور
لګوي چې تاسو بدکاره يئ، خو ستاسو د نېکو کارونو په ليدلو به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی د اخرت په ورځ د خدای ستاینه کوي.

## د اختیار د خاوندانو تابع اوسئ

۱۳ د ښبنتن په خاطر د هر هغه چا تابع اوسئ چې د واک خاوند
وي، که هغه پاچا وي چې د ټولو نه لوړ مقام لري، ۱۴ او یا هغه
والیان چې د پاچا له خوا ټاکل شوي دي چې مجرمانو ته سزا او
نېکو خلکو ته عزت ورکوي. ۱۵ ځکه چې دا د خدای رضا ده
چې تاسو په خپلو نېکو کارونو د ناپوهو خلکو د خبرو مخه ونیسئ.
۱۶ د ازادو خلکو په توګه ژوند وکړئ، خو د دې ازادۍ څخه باید
د خپلو بدیو د پټولو دپاره کار وانخلئ، بلکې د خدای د خدمتګارانو
په شان ژوند وکړئ. ۱۷ د ټولو خلکو درناوی کوئ، د ایماندارانو
سره مینه کوئ، د خدای څخه وېرېږئ او د پاچا درناوی کوئ.

## د مسیح د کړاوونو مثال

۱۸ ای غلامانو! په ډېر درناوي سره د خپلو بادارانو تابع اوسئ، نه
یوازې د مهربانه او ښه خوی لرونکو بادارانو، بلکې د بدخویه بادارنو
هم. ۱۹ ځکه که چېرې څوک په ناحقه دردونه او کړاوونه وزغمي
او پوهېږي چې په دې کې د خدای رضا ده، نو خدای به ورته برکت
ورکړي. ۲۰ خو که چېرې تاسو کوم بد کار وکړئ او د هغې په
خاطر وهل وخورئ او هغه وزغمئ، نو په دې کې به ستاسو دپاره
څه اجر وي؟ خو بیا که چېرې تاسو ښه کارونه وکړئ او په بدل کې
یې کړاو ووینئ او هغه وزغمئ، نو خدای به درته د هغې برکتونه
درکړي. ۲۱ د همدې دپاره خدای تاسو رابللي یئ، ځکه چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مسیح هم ستاسو په خاطر دردونه او کړاوونه وزغمل او تاسو ته یې
یو مثال پرېښود، ترڅو د هغه په قدم پل کېږدئ. ۲۲ هغه هېڅ ګناه
ونه کړه او نه یې چا د خولې نه غولوونکې خبرې واورېدلې. ۲۳
کله چې هغه ته ښکنځلې کېدلې، نو بېرته به یې د ښکنځلو په بدل
کې ځواب نه ورکاوه. کله چې به هغه د خلکو له خوا ځورول کېده،
نو ګواښونه به یې ورته نه کول، بلکې خپل ځان یې هغه چاته سپاره
چې د انصاف له مخې قضاوت کوي. ۲۴ مسیح په خپله زمونږ د
ګناهونو بار په خپلو اوږو واخیست او هغه یې صلیب ته یووړ، ترڅو
مونږ د ګناه نه خلاص شو او د عدالت دپاره ژوند وکړو. د هغه د
ټپونو له امله مونږ شفا وموندله. ۲۵ تاسو د هغو پسونو په شان وئ
چې لاره یې ورکه کړې وه، خو اوس بېرته خپل شپون او ساتونکي
ته راستانه شوي یئ.

## ښځې او مېړونه

۳ ۱ اې ښځو! د خپلو مېړونو تابع اوسئ، ځکه که چېرې په
هغوی کې ځینې یې د خدای کلام نه مني، نو ستاسو د چلند په لیدلو
سره به پرته له کومې خبرې ایمان راوړي، ۲ ځکه چې هغوی به
ووینې چې تاسو څومره په پاکۍ او د خدای څخه په وېره کې ژوند
تېروئ. ۳-۴ ستاسو ښایست دې یوازې ظاهري نه وي لکه
څنګه چې خپل ویښتان جوړوئ یا د سرو زرو ګاڼې اچوئ او یا
ښکلي کالي اغوندئ، خو ستاسو ښایست دې باطني ښایست وي چې
له منځه نه ځي. هغه ښایست په نرم او ارام روح کې دی چې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای په نظر کې ډېر قیمتي دی. ۵ په همدې ډول په پخوا زمانه
کې پرهېزګارې ښځې وې چې په خدای یې توکل درلود او د خپلو
مېړونو تابع وې، له دې امله هغوی ښایسته کېدلې. ۶ د مثال په
ډول ساره د ابراهیم اطاعت کاوه او هغه ته به یې بادار ویل. که تاسو
هم ښه کارونه کوئ او د هر هغه شي څخه چې د وېرې سبب ګرځي
ونه وېرېږئ، نو تاسو به د هغې لورګانې یئ. ۷ تاسو هم ای
مېړونو! د خپلو ښځو سره په هوښیارۍ سره ګوزاره کوئ او که څه
هم هغوی ستاسو څخه کمزورې دي، خو په درناوي ورسره چلند
کوئ، ځکه چې هغوی درسره د تلپاتې ژوندون په نعمت کې شریکې
دي. همداسې کوئ، ترڅو داسې نه شي چې ستاسو دعاګانې خدای
قبولې نه کړي.

## د نېکو کارونو له امله د کړاوونو زغمل

۸ لنډه دا چې تاسو ټول باید په یو فکر اوسئ، یو د بل سره
خواخوږي ولرئ، د یو بل سره د ورونو په شان مینه ولرئ او مهربانه
او عاجزه اوسئ. ۹ د بدو په بدل کې بدي مه کوئ او د ښکنځلو
په بدل کې ښکنځل مه کوئ، بلکې د هغې په ځای برکت وغواړئ،
ځکه چې خدای تاسو د دې دپاره رابللي یئ چې برکت درکړي.
۱۰ لکه څنګه چې د خدای کلام وایي:

ځوک چې غواړي خوشحاله ژوند ولري

او ووینې ښې ورځې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وساتئ خپله ژبه بدو خبرو نه

وساتئ خپلې شونډې د دروغو نه

١١ له بدو لیرې ګرځئ کوئ نېکي

سولې دپاره هلې‌ځلې کوئ او ورپسې وګرځئ

١٢ دی د څښتن نظر نېکانو باندې

او نیسي غوږ يې دعاګانو ته

خو دی څښتن د بدکارانو خلاف

١٣ که چېرې تاسو د نېکو کارونو غوښتونکي يئ، نو څوک به
تاسو ته زیان ورسوي؟ ١۴ که څه هم تاسو د نېک کار په خاطر
درد او کړاو زغمئ، خو تاسو بختور يئ. د هېچا نه مه وېرېږئ او
اندېښنه مه کوئ. ١۵ خو د مسیح دپاره په خپلو زړونو کې درناوی
ولرئ او هغه خپل څښتن وګڼئ. که څوک ستاسو نه ستاسې د هیلې
د علت پوښتنه وکړي، نو تل يې ځواب ورکولو ته تیار اوسئ، ١۶
خو په نرمۍ او درناوي سره. خپل وجدان پاک ساتئ، ترڅو کله چې
تاسو ته سپکاوی کیږي او د نېک مسیحي چلند په خاطر درته خلک
بد وايي، وشرمیږي. ١٧ ځکه که دا د خدای رضا وي چې تاسو
دې تکلیفونه ووینئ، نو ډېره ښه به وي چې د نېکو کارونو له امله
وي، نه د بدو کارونو له امله.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٨ ځکه چې مسيح يوځل او د تل دپاره زمونږ د ګناهونو په
خاطر مړ شو، يعنې يو بې‌ګناه سړی د ګناهکارانو په خاطر، د دې
دپاره چې مونږ خدای ته ورسوي. هغه په جسماني توګه مړ شو، خو
په روحاني توګه ژوندی شو، ١٩ او په دې ډول هغه لاړ او هغو
روحونو ته يې وعظ وکړ چې بنديان وو. ٢٠ دا د هغو خلکو
روحونه وو چې د خدای د حکم څخه يې اطاعت ونه کړ. کله چې
نوح کشتۍ جوړوله، خدای په صبر سره هغوی ته انتظار کاوه. په هغې
کشتۍ کې يوازې اته تنه د اوبو څخه وژغورل شول. ٢١ دا د تعميد
د غسل يو مثال دی. اوس خدای تاسو ته د عيسی مسيح د بيا
راژوندي کېدلو په وسيله خلاصون درکوي. د تعميد غسل د بدن د
ناپاکۍ لېرې کول نه دي بلکې د پاک وجدان په سبب د خدای څخه
يوه غوښتنه ده. ٢٢ اوس مسيح اسمان ته پورته شوی دی او د
خدای ښي لاس ته ناست دی او ټولې فرښتې، اختيارات او اسماني
قدرتونه د هغه تابع دي.

## ايمانداران بايد څنګه ژوند ولري

٤ ١ نو څرنګه چې مسيح په جسماني توګه دردونه او کړاوونه
وزغمل، نو تاسو هم بايد خپل ځانونه همدې کار ته تيار کړئ. ځکه
چا چې درد او کړاو زغملی دی، نو هغه نور نه غواړي چې ګناه
وکړي. ٢ د دې دپاره چې خپل پاتې ژوند د نفساني غوښتنو سره
سم نه تېروي بلکې د خدای د رضا له مخې يې تېروي، ٣ ځکه
چې تاسو له مخکې نه خپل زيات وخت په هغو کارونو کې چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بېدینه خلک یې خوښوي، تېر کړ. ستاسو ژوند په بداخلاقی،
شهوت‌پرستی، مستی، عیاشی، د شرابو په نشو او د شرم نه ډکې
بت‌پرستی کې تېر شو. ۴ اوس ستاسو پخواني ملګري په دې
حیران دي چې تاسو ورسره په ډېرو بې‌لارې کوونکو کارونو کې چې
هغوی یې کوي ملګرتیا نه کوئ، نو له دې امله تاسو ته بد رد وایي.
۵ هغوی به د دې حساب هغه خدای ته ورکوي چې د مړو او
ژوندیو په هکله قضاوت کوي. ۶ ځکه چې هغو خلکو ته هم
زېری واورول شو چې اوس مړه شوي دي، سره له دې چې هغوی ته
په جسماني توګه سزا ورکړل شوې وه، ترڅو هغوی وکولای شي چې
په روحاني توګه د خدای په شان ژوندي پاتې شي.

۷ دا نړۍ به زر ختمه شي، نو ځان ساتئ او هوښیار اوسئ، ترڅو
وکولای شئ دعا وکړئ. ۸ د ټولو څخه مهمه دا ده چې یو د بل
سره د اخلاص نه ډکه مینه کوئ، ځکه چې مینه د ډېرو ګناهونو
بخښنه کوي. ۹ بې له ګوربډلو د یو بل مېلمه‌پالنه وکړئ. ۱۰
هرچا ته چې د خدای د ډول ډول نعمتونو څخه کوم نعمت ورکړل
شوی دی د هغه څخه دې د نورو په خدمت کې کار واخلي. ۱۱
که څوک خبرې کوي، نو هغه دې داسې خبرې وکړي لکه څنګه چې
د خدای کلام خبرې کوي. که څوک خدمت کوي، نو هغه دې په هغه
قوت سره وکړي چې خدای ورته ورکړی دی، ترڅو په هرڅه کې
خدای د عیسی مسیح په وسیله جلال ومومي. جلال او قدرت تل
ترتله د هغه دی. امین!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یو مسیحي په توګه باید درد وزغمئ

۱۲ ګرانو دوستانو! کوم سخت ازمېښت چې په تاسو راځي نو په
هغې باندې مه حیرانېږئ چې ګوندې کومه عجیبه پېښه درباندې
راغلې ده. ۱۳ بلکې خوشحالي کوئ چې تاسو د مسیح په کړاوونو
کې شریک کېږئ، ترڅو د هغه د جلال د ښکاره کېدلو په وخت کې
خوښ او خوشحاله اوسئ. ۱۴ که چېرې د مسیح د نوم په خاطر
ستاسو سپکاوی کیږي نو تاسو بختور یئ، ځکه چې د جلال روح
یعنې د خدای روح په تاسو کې ځای نیسي. ۱۵ په تاسو کې دې
هېڅوک د قتل، غلا یا بدکارۍ او یا د نورو په کارونو کې د لاس
وهنې په سبب درد او کړاو ونه زغمي. ۱۶ خو که څوک د مسیحي
په نوم ځورول کیږي، نو نه دې شرمیږي، بلکې د دې نوم په خاطر
دې د خدای ثنا ووایي.

۱۷ ځکه چې هغه وخت رارسېدلی دی چې خدای به لومړی د
خپل قوم په اړه قضاوت پیل کړي، او که چېرې زمونږ څخه پیل
کیږي، نو د هغو خلکو وروستنی انجام به څه وي چې د خدای زیری
نه مني. ۱۸ لکه څنګه چې د خدای کلام وایي:

که چېرې نېکان په سختۍ سره خلاصون مومي، نو د بېدینه او
ګناهکارو به څه حال وي؟

۱۹ نو بیا څوک چې د خدای د ارادې له مخې دردونه او کړاوونه
زغمي، هغوی دې خپل ځانونه وفادار خالق ته وسپاري او تل دې
نېکي کوي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

**۵** ۱ زه د کلیسا د یو مشر په توګه چې د مسیح د کړاوونو شاهد
وم او په هغه جلال کې چې زر به ښکاره شي شریک یم. نو زه
ستاسو مشرانو څخه غوښتنه کوم، ۲ چې د خدای د هغې رمې
شپانه اوسئ چې تاسو ته یې درسپارلې ده. په هغې باندې په جبر
سره نه بلکې په خپله خوښه پام کوئ لکه څنګه چې خدای یې
درڅخه غواړي. خپل کار وکړئ، یوازې د پیسو په خاطر نه، بلکې په
شوق سره. ۳ کوم خلک چې تاسو ته سپارل شوي دي په هغوی
باندې باداري مه کوئ، بلکې د هغې رمې دپاره یو مثال اوسئ. ۴
کله چې مشر شپون راښکاره شي، نو تاسو ته به د جلال څخه ډک
تاج درکړل شي چې هیڅکله له منځه نه ځي. ۵ همدارنګه ای
ځوانانو! د خپلو مشرانو تابع اوسئ. او تاسو ټول د عاجزۍ پټۍ تر
ملا وتړئ او د یو بل خدمت کوئ، ځکه چې د خدای کلام وایي:
«خدای د کبرجنو خلکو په خلاف دی او په عاجزانو باندې فضل
کوي.»

۶ خپل ځانونه د خدای د قدرت په وړاندې عاجزان کړئ، ترڅو
تاسو په یو مناسب وخت کې سرلوړي کړي، ۷ او خپلې ټولې
اندېښنې هغه ته پرېږدئ، ځکه چې هغه په تاسو باندې پام کوي.

۸ هوښیار او ویښ اوسئ، ځکه چې ستاسو دښمن شیطان د
غړمبېدونکي زمري په شان ګرځي او راګرځي او په دې لټه کې دی
چې څوک ژوندی تیر کړي. ۹ نو په ټینګ ایمان سره د شیطان په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وړاندې کلک ودرېږئ، ځکه چې تاسو پوهېږئ چې ستاسو
ایمانداران ورونه په ټوله نړۍ کې همدا ډول کړاوونه زغمي. ۱۰ خو
خدای چې د فضل او برکت نه ډک دی، مونږ یې د عیسی مسیح په
نوم خپل تلپاتې جلال ته رابللي یو. کله چې تاسو د لږ وخت دپاره
تکلیفونه ولیدل، نو هغه به تاسو بېرته جوړ، ټینګ او قوي کړي. ۱۱
د هغه قدرت دې تل ترتله وي. امین.

## وروستني سلامونه

۱۲ ما دا لیک د سیلاس په مرسته چې زه یې وفادار ورور ګڼم، په
لنډ ډول ولیکه، ترڅو تاسو وهڅوم او شاهدي درکړم چې همدا د
خدای رښتینی فضل دی. په هغه باندې ټینګ ودرېږئ.

۱۳ هغه کلیسا چې په بابل کې ده او ستاسو په شان غوره شوې ده،
تاسو ته سلام وایي او همدارنګه زما زوی مرقوس هم تاسو ته سلام
وایي. ۱۴ یو بل په پاکه مینه ښکل کړئ او ټولو ته سلامونه ووایئ.
سلامتي دې وي په تاسو ټولو باندې چې د مسیح یئ.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.